مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنګروال

۲۰۲۰/۰۳/۱۱

# کرزی، لکه «دو شمشیره,ع ر,» په دواړولاسو جنګیږي

زاړه ولسمشرحامد کرزی په خپلو وروستیو څرګندونو کې د اشرف غني او عبداله په جلا،جلا سوګندونو غبرګون ښودلی دی او ډاګیزه کړیده، چې دا د امریکا د منافقانه پالیسوپایله ده... کاشکې چې ښاغلی کرزي دا خبرې هغه مهال کړ ې وای، چې دی په واک کې وو... ولې هغه وخت چې تاسو د بوش په ټټر د وزیر محمد اکبرخان مډال ټومبه هغه مهال امریکا منافقت نه درلود؟ که چیرې تاسو د افغانستان د پوځ لپاره د عاید یو بنسټیز کار کړی وی اوس به زموږ لاس تر ډبرې لاندې نه وو... ایا کله هم تاسو دا فکر کړی چې تاسو څرنګه واک ته ورسېدی؟... راځئ چې لږ شاته لاړ شو او وګورو چې محترم کرزی صیب څرنګه واک ته ورسېد؟

ستیو کول پخپلو څرګندونو کې په ډاګه کړېده ده چې د «سپتامبر په لومړیو کې د احمد شاه مسعود څارګرو د C.I.Aد ترهګرۍ ضد دفتر ته د دوه عربو تلویزوني خبریالانو په هکله، چې له کابل نه د شمالي ټلوالې لیکو ته ورتېر شوي ول، د تل په څېر یو عادي رپوټ ورکړ. د مسعود او سي آی اې تر مینځ د څارګري اطلاعاتو شریکول، یوازې په افغانستان کې د عربو او نورو بهرنیانو په اړه وو...

د دوو عربو خبریالانو په اړه د ورسېدلي رپوټ په برخه کې د بن لادن د ځانګې افسرانو کوم ځانګړی غبرګون ونښود، ځکه چې هغه په ځانګړې توګه د غور وړ نه څرګندېده «.

BBCپه ۲۰۰۱ ز کال د سپتامبر د ۹ نېټې چې د ۱۳۸۰ لمریز کال چې د وږې (سنبلې) له ۱۸ نېټې سره برابره وه د تخار په خواجه بهاوالدین کې د یوې چاودنې، د پېښې په تړاو یو خبر خپور کړ چې مسعود د دوه ژورنالستانو لخوا چې چاودېدونکې توکي یې په وېډیویي کامره کې ځای پر ځای کړي ول د سختو ټپونو له امله د تاجکستان په یوه روغتون کې ومړ.

که څه هم د مسعود د مرګ لومړی خبر مسکو خپور کړ، ولې ډېر ژر BBC، امریکا غږ او د فرانسې آژانسونو د دې خبر پخلی وکړ.

ولې برهان الدین رباني او نورو چارواکو به ویل چې مسعود ژوندی دی، تر هغې چې د سپتامبر په (۱۵) نېټه یې د هغه مړینه د یوه فرمان په ترڅ کې اعلان کړه.

دغه خبریالان په یوه بلجیمي پاسپورت تر دغه بریده را رسېدلي ول او داسې ګونګوسې هم وې چې دوی د مراکش وو، خو لږو ډېر په انګلسي او فرانسوي ژبو هم پوهېدل.

یوه پوښته په فرانسوي ژبه دا هم وه چې له احمد شاه مسعود پوښتل شوي ول:

که چېرې تاسو واک ته ورسیږی، نو ستاسو چلن به له اسامه بن لادن سره څه ډول وي؟

دوی لا دمخه عبدالرب رسول سیاف ته تر غوږه رسولی وه چې دا ډول پوښتنې عربي نړۍ ته د پام وړ ځکه دي چې د مسعود دریځ څرګند شي. ولې د نوموړي دریځ تل دا و چې C.I.Aته به یې ویل:

القاعده او طالب زموږ او د امریکا ګډ دښمن دی. خو د دې لپاره چې مسعود ځان د عربي نړۍ خواخوږی ښودلی وی د سیاف په ټینګار یې یوه الوتکه له تخار نه پنجشېر ته ولېږله چې هغه دوه عرب ژورنالستان خواجه بهاوالدین ته راولي.

د امریکا په متحده ایالاتو کې د چارواکو اندونه ویشل شوي ول. یو شمېر په دې اند ول په سر کې کلنټن چې سي آی اې باید القاعده وځاري، خو ډېر ګروهمن نه وو چې کومه وړتیا ترلاسه کړي.

ځنې نورو غوره ګڼله چې په القاعده باندې ان کروز توغندي ووروي... د سي آی اې قانون پوهانو د بوش د لاسلیک لپاره، په افغانستان کې د پټو عملیاتو لپاره په مسودې کار کاوه، چې د سپتامبر د ۹ نېټې پېښه ترسره شوه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د سپتامبر د لسمي نېټي په سهار سي آی اې ولسمشر بوش، د هغه کابيني او نورو پاليسي جوړونکو ته د يو لنډيز د وړاندې کولو په ترڅ کي د مسعود د مرګ په اړه رپوټ ورکړ، چي بيا د القاعدې پر خلاف د امريکا په پټه جګړه خبرې را پورته شوې چي مشري يې د سپيني ماڼی ستيفن کوله.

## د سپتامبر د ۱۱ نېټي پايلي:

د سپتمبر له ۱۱ يوولسمي نېټي د مخه اسامه بن لادن د امريکا تر ګواښ لاندي و. هغه مهال چي امريکا د اګست په ۲۰ نېټه (۱۹۹۸ کال) پدې پلمه چي القاعدې د بن لادن په سپارښتنه په کينيا او تانزانيا، د هغه هېواد په سفارتونو بريد کړی، نو ځکه يې په خوست او جلال اباد کي د اسامه بن لادن په پوځي پلاز کروز توغندي وورول.
طالبانو د دې لپاره چي په بن لادن د بريد غچ او کسات اخستی وي، له بريد نه يوه ورځ وروسته د اګست په ۲۱ نېټه (۳۰/۵/۱۳۷۷) د ملګرو ملتو اړوند يو ايټالوی پوځي په کابل کي وواژه، نو ځکه هغې اداري سخت غبرګون وښود.
هغسې لا ملګرو ملتو د مخه د ايراني ډيپلوماتانو په وژنه چي په مزار شريف کي وژل شوي (۱۹۹۸/۸/۱۸ کال) ول هم طالبانو ته ګواښ کړی وه.
د ايران چارواکو هم د سپتمبر په لومړی نېټه (۱۳۷۷/۶/۱۰ کال) د پوځي تمريناتو په پلمه د افغانستان پولي ته ډېرمه خپل ځواکونه ځای پر ځای کړل.
د ملګرو ملتو استازی لخدر ابراهيمي ايران ته راغی او هغو ترې وغوښتل چي طالبان بايد د ډيپلوماتانو او يوه خبريال قاتلين ايران ته وسپاري.
ملګرو ملتو د کوفي انان په نوښت د سپتامبر په ۲۱ نېټه (۱۹۹۸ کال) چي د ۱۳۷۷ لېږديز کال د سنبلي له ۳۱ سره برابره وه د افغانستان د شپږو ګاونډيو هېوادونو د بهرنيو چارو وزيرانو په ګډون (ايران، پاکستان، ترکمنستان، ازبکستان، تاجکستان، چين) عمومي غونډه جوړه شوه، دغې غونډې ته را بلل شوي ول چي د افغانستان په سياسي کړکېچ وغږېږي.
د ملګرو ملتو د امنيت شورى هم د قوس (ليندۍ) په اتلسمه (۱۸) نېټه (۱۳۷۷ هـ ش کال) غونډه وکړه او طالبانو ته ګواښ وکړ چي پخپل هېواد کي ترهګرو ته ځای ورنکړي.
له دې سربېره د امنيت شورا يوازې په ۱۹۹۹ کال د جنوري په شلمه (۲۰) شلمه نېټه او د اپريل په (۱۹) نولسمه نېټه د افغانستان د ډېبنو په تړاو غونډې وکړې، د پوځي او سياسي کړکېچ په څنګ د ښځو او بشري حقوقو په تړاو اندېښنه وښوده او له ۶+۲ هېوادونو څخه وغوښتل شول چي په دې تړاو لاس په کار شي.
د ۶+۲ هېوادونو څخه يوازې ترکمنستان خپل نابيلتوب خوندي کړی وه. نو ځکه خو د ملګرو ملتو په مشرى د هغې ناستي کوربه وه چي په ۱۹۹۹ کال د ترکمنستان په پلازمېني عشق اباد کي جوړه شوې وه.
د ملګرو ملتو سر منشي کوفي انان په ۲۰۰۰ ز کال د جنوري په ۱۳ نېټه (۱۳۷۸/۱۰/۲۳ کال) فرانسيس ويندريل «Frances vendrel»يو اسپانوي د ابراهيمي پر ځای وټاکه، چي د افغانستان کړکېچ کابو کړي.
د ملګرو ملتو د دې تولو هڅو نچوړ دا و چي د طالبانو د دې تولو کړو وړو تر شا د پاکستان لاس دی. لا کله چي هغه خلور کسيزه پلاوي چي له پاکستان، ايران او مينځنی اسيا هېوادونو نه ليدنه وکړه، په څرګنده يې چي د اپريل په ۱۸ اتلسمه نېټه (۲۰۰۱ م کال) د افغانستان او پاکستان په پوله له خيبر نه کتنه کړې وه وويل: پاکستان د طالبانو ترشا ولاړ دی. بيا يې د دې ټولو ډېبنو پېره په پاکستان واچوله. طالب چارواکو هم دا هر څه په خپلو سترګو ليدل، ولي دومره سياسي پوهه يې نه درلوده چي پوه شي پاکستان خپلي سياسي موخې لري، دوی په دې هم نيوهېدل چي د القاعدې د مشر شتون به هرومرو داسي ستونزې را ولاړې کړي چي په پای کي به افغانستان د ترهګرى قرباني شي.
طالبانو د نړی له ډله ييزو رسانيو او په تېره د سيمي او نړی له استخباراتو نه بشپړه خبرتيا نه درلوده چي په نړی کي څه تېرېږي؟ که يو شمېر طالبان په دې پوهېدل هم، خو په مذهبي احساساتو کي دومره ښکېل ول چي د خپل هېواد ملي ګټي ترې هېرې وې.
پنتاګون، C.I.A ته دننه سپارلي وه چي بن لادن ونيسي او يا يې له مينځه يوسي. طالبان په دې هم نيوهېدل چي اسامه بن لادن امريکا ته څومره ګواښ دی؟ سپيني ماڼی لا ان د ۱۹۹۸ کال په پای او د ۱۹۹۹ کال په سر کي دا پتيبلي وه چي د القاعدې مشر له کندهاره څنګه ولېږدوي او يا کومه بله لاره ولټوي، چي د هغه له ګواښ نه نړی وژغوري.
ستيو کول په خپلو څرګندونو کي داګيزه کړې ده:
«هغه اونۍ چي د بن لادن اورپکو پر دوو امريکايي سفارتونو (کينيا او تانزانيا) بريد وکړ د ملا عمر پګړيوالو سرتېر و، چي ليکي يې د پاکستان له مدرسو څخه پر ورغلو جهاديانو پړسېدلي وې، او د پاکستان څارګرو افسرانو ورسره مرسته کوله، د افغانستان په شمال کي د مزار ښار تر لاسه کړی و.
په آی اس آی کي د افغانستان د ډېبنو اوږد مهال څارګر کرنيل امام... به ويل: زه او زما بچيان مزارشريف ته دننه روان يو.»



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

پر افغانستان د امریکي د کروز توغندیو د توغولو دوه میاشتي وروسته نواز شریف د پوځ مشر له دندې لرې کړ.
نوموړي له يوې خوا پرويز مشرف د پوځ د مشر په توګه و مانه او له بلې خوا يې جنرال ضياألدين د څارګرې اداري د مشر په توګه وټاکه.
دا داسي مهال دی چي شریف له کلنټن سره څان ډېر نږدې کړی وه، پاکستاني چاوراکو داسي سپيني مانۍ واکمنو ته په غوږ کي څڅولي وه، چي د اسامه بن لادن په نيولو کي ورسره پټه مرسته کولی شي.
کله چي په اسلام اباد کي د امريکي سفير ويليم مايلم او د سي آی آې د مشر ګاري شروين د پاکستان د يو شمېر چاروکو ژمني واورېدې وپيټله چي د I.S.Iله مشر سره پدې موخه اړيکي خوړې کړې چي ګني د بن لادن او القاعدې په کابو کولو کي ورسره مرسته وکړي.
دوی په دې نيوهېدل چي پاکستان غله ته وايي غلا کوه او کوروال ته وايي څار. آی اس آی لا د مخه بن لادن ته خبر ورکړی وه چي ستا د ټيلفون نمره، د سپوږمکۍ له لارې د امريکا څارګرې اداري ترلاسه کړې ده.
جنرال ضياأالدين، د امريکا د بهرنيو چارو وزارت مرستيال پيکرينګ ته وويل چي له ملا عمر سره به د بن لادن په تړاو خبرې وکړي. د دوی يو شمېر څارګرو او اېجنټانو دا هم د هغه تر غوږه (۲۰۰۰ ز کال) رسولې وه چي اوس دستي لادن د جلال اباد په درونټه کي اوسېږي.
آی اس آی د ۲۰۰۱ ز کال د پسرلي په مياشتو کي «ټينيټ» ته چي په پټه اسلام اباد ته راغلی و د مرستي ټټر وواهه، ولي بيا ټينيټ له محمود نه د عملي مرستي غوښتنه وکړه.
د دې ټولو پټو او ښکاره هڅو سره سره د سپتامبر ۱۱ يوولس (۲۰۰۱ ز کال) نېټه ورورو را نږدې کېده ان دا چي د (۲۰۰۱ ز کال) د سپتامبر تر لسمي نيټي پورې اف بي آی ۲۱۶ پټ رپوټونه وړاندې کړي ول چي په دغه لړ کي شپږ رپوټونه د هوايي ډکرونو په تړاو ول چي تر ګواښ لاندې دي.
خو د سه شنبه ورځ يو ناڅاپه د سپتامبر په «۱۱» نېټې (۲۰۰۱ م کال) د امريکا زړه نيو يارک ولړزېده او دا داسي مهال وه چي اسامه بن لادن په ډاګه ويلي چي په دې څو اونيو کي به د امريکا او اسرائيلو په تأسيساتو بريدونه ترسره شي... اسامه بن لادن د سعودي عربستان د يوه سپوږمکيز (ستلايټ) تلويزيون له يوه خبريال «بکراتياني» سره پاکستان پولي ته نږدې وکتل... اتياني وايي چي بن لادن او مرستيالانو يې په بربنډه توګه وويل چي موږ به په څو اونيو کي امريکا او اسرائيل په نښه کړو...
هغه شپېي په ډېرې چټکي را ورسېدې، د القاعدې بنسټپالو په نيويارک کي د نړۍ په سوداګريز پلاز بريد وکړ او د پنټاګون مانۍ يې تر اور لاندې ونيوله.
د بن لادن په سپارښتنه چي کومه پيښه د سپتامبر په ۱۱ نېټه تر سره شوه، په ټوله نړۍ کي يو د بل پسي ستر بدلونونه مينځته راغلل.
همدغسي افغانستان د دې ټولو سياسي او پوځي پېښو مرکز وګڼل شو چي امريکا په خپل پوځي بريد د افغانستان خاوره تر اور لاندې ونيوه.

### په افغانستان پوځي بريد:

مخکي تر دې چي امريکا په افغانستان وسلوال بريد وکړي په دې تړاو د امريکا، ملګرو ملتو او د سيمې هېوادونو يو شمېر هڅو ته تم کېږو:

1 ـ ملګرو ملتو غوښتل چي د افغانستان په جګړه کي ښکېلي خواوې دېته اړ کړي چي خپلي ستونزې له سياسي لارې حل کړي. په دې لړ کي په دې ټينګار کوه چي ګاونډي هېوادونه بايد دواړو غاړو ته وسلې او پيسي ور نکړي او له دې سربېره په هغه څه بنديز ولګېږي چي د جګړې د کابو کولو خنډ ګرځي.

2 ـ ملګرو ملتو او امريکا په ګډه پاکستان ته سپارښتنه وکړه چي طالبان دېته وهڅوي چي د بشري حقوقو له سرغړوني نه را وګرځي، خو پاکستاني چاروکو وويل: اسلام اباد په طالبانو دومره برلاسی ندی. ولي حقيقت داسي نه و.

۳ -د مينځنۍ اسيا هېوادونه پدې لړ کي ازبکستان د پيکن او مسکو په مشرۍ د شانګهاي ټولني ته د خپلي اړيکي له مخي په ډاګه کړه چي پاکستان د آی اس آی په مرسته طالبان او بن لادن دېته هڅوي چي مينځنۍ اسيا هېوادونو ته يو ګواښ پېښ کړي.
پدغه وخت کي داسي برېښېده چي امريکا غواړي په سيمه کي يوه بدلون ته لاره پرانيزي.

۴ -د سپتمبر ۱۱ نېټې وښوده چي نور نو ملګري ملتونه او د نړۍ هېوادونه په سر کي امريکا د دې څخه نه لري چي د طالبانو او اسامه بن لادن پر وړاندې چپ پاتې شي، غوره يې وګڼله چي په يوه وسلوال بريد فکر وکړي.
د پاکستان آی ای آی هم چغې وهلې چي اوس طالبان زموږ په ولکه کي ندي، بلکي د بن لادن په واک کي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

۵ -د امنیت شورا د سپتامبر په ۱۲ نېټې د ۱۳۶۸ مې ګڼې پر بنسټ پرېکړه وکړه چې نړۍ باید په ګډه د تروریزم او ترهګرۍ پر وړاندې په ټینګه ودرېږي او د ناټو غړو هېوادونو هم ورته غبرګون وښود.

۶ -امریکا پخوا تر دې چې په افغانستان وسلوال برید وکړي پاکستان ته سپارښتنه وکړه چې طالبانو ته ګوت ښندنه وکړي چې اسامه بن لادن ور وسپاري.
پاکستان د سپتامبر په ۱۷ نېټې (۲۰۰۱ کال) یو پلاوی (۱۳۸۰/۶/۲۶ کال) د طالبانو د مشر ملا عمر سره د لیدلو لپاره کندهار ته واستوه چې د اسامه بن لادن په برخلیک ورسره وغږېږي.
ملا عمر پخپلو څرګندونو کې ښکاره کړه چې په دې برخه کې د افغانستان د علماوو یوه لویه جرګه پرېکړه وکړي چې آیا اسامه بن لادن له افغانستان نه ووځي او کنه؟
له دېنه یوه ورځ وروسته ۲۷/ ۱۳۸۰/۶ ل کال نېټه د دیني علماوو یوه لویه جرګه جوړه شوه.... خو وروستی پرېکړه یوې بلې ورځې ته وځنډېده چې باید له دې نه هم یوه بله لویه جرګه جوړه شي.
د سنبلې په ۲۸ نېټې د علماوو جرګې پرېکړه وکړه چې اسامه بن لادن دې ته وهڅول شي چې پخپله خوښه هېواد پرېږدي.

۷ -د امریکې اداري د بوش په مشرۍ غونډه وکړه او په دې ټینګار وکړ چې پرته له کوم شرطه اسامه بن لادن موږ ته وسپارل شي او که نه طالبان به تر پوځي برید لاندې ونیول شي.
شمالي ټلوالې د برهان الدین رباني په مشرۍ غونډه وکړه او په دې برخه کې یې په ډاګه وویل، موږ به د امریکا له هر ډول پوځي برید نه ملاتړ وکړو او باید هرومرو د طالبانو واک وپرځول شي.
د دغې ټلوالې چارواکو له روسي چارواکو سره هم د طالبانو پر وړاندې چې باید له دوی سره پوځي او اقتصادي مرسته وشي اړیکې نیولې وې.
عبدالرب رسول سیاف له یو شمېر دېله بیزو رسانیو سره په ډاګه کړه چې برهان الدین رباني د یوه قانوني حکومت په توګه حق لري چې له روسانو او یا له بل کوم هېواد سره د طالبانو خلاف خبرې اترې وکړي او له هغوی نه هر اړخیزه مرسته ترلاسه کړي.

۸ -د ملګرو ملتو د امنیت شورۍ د ۱۳۷۳ ګڼې د پرېکړه لیک له مخې د سپتامبر په ۲۸ نېټې (۲۰۰۱ کال) وویل چې په دېله بیزه توګه نړۍ باید د تروریزم او ترهګرۍ پر وړاندې ودرېږي.
د همدې پرېکړې پر بنسټ د اکتوبر په (۷) چې د میزان (تلې) له ۱۵ نېټې (۱۳۸۰کال) سره برابره وه د شپې ۹ بجې او ۵۰ دقیقې وې د هند سمندرګي او د یګوسیاله جزیرې نه په افغانستان وسلوال برید وشو.
د انګلوساکسون Anglo – saxon سیاست له مخې چې د یوه نړیوال ائتلاف په پلمه باید په دا ډول کارونو، لاسپورې کړی شي د تامل وړ دی.
ډېر ځله له یو شمېر اصلاحاتو نه یو شمېر هېوادونو داسې ګټې اخیستې لکه څرنګه چې شوروي اتحاد د ملګرو ملتو د منشور له مخې «۵۱» مادې نه ګټه واخسته چې ګڼې د تروریزم پر وړاندې له یوه قانوني دولت نه دفاع کوي په افغانستان پوځي برید وکړ.
شوروي اتحاد له دغې مادې نه ناوړه استفاده وکړه، یو قانوني حکومت یې ړنګ او پر ځای یې یو لاسپوڅی حکومت کېنوه.
امریکا هم په دې پلمه چې دالقاعدې د برید پر وړاندې ودرېږي نو د خپل غچ اخستلو په پلمه یې په افغانستان وسلوال برید وکړ او افغانستان یې یو ځل بیا د پاکستان لمنې ور وغورځوه.
د ترهګرۍ د لمینځه وړلو لپاره په تېره د القاعدې او طالبانو د ځپلو لپاره نورې لارې هم وې چې د ملګرو ملتو په ملاتړ یې عملي کړې وی. د بېلګې په توګه که چېرې پاکستان ته ګواښ شوی وی چې د تروروستانو پټنځایونه له مینځه یوسي او که نه د نړیوالو بندیزونو تر ګواښ لاندې به راشي... لکه څرنګه چې وروسسته پېښو وښوده چې د القاعدې مشر اسامه اسلام اباد ته څېرمه د عملیاتو په ترڅ کې ووژل شو. خو بیآ هم په دغې برید سره، ډېر زیان د افغانستان ولس وګاله.

۹ -ټلوالې نه یوازې له بریدګرو نه پوځي مرسته ترلاسه کړه بلکې په بکسونو ډالر یې هم تر ګوتو کړل. نه یوازې ټلوالې د طالبانو پر وړاندې امریکایانو ته د مرستې ټېر وواهه بلکې د روم، پېښور او د قبرس ډلګیو هم د مرستې اعلان وکړ.
بهرنیو هېوادونو، په دې لړ کې ګاوندیو، پرته له ایران نه د امریکا د هوایي برید ملاتړ وکړ. لخضر ابراهیمي هم په اسلام اباد کې له پرویز مشرف او له یو شمېر افغانانو سره ولیدل او بیا یې د نوامبر په (۹) نېټه (۲۰۰۱ ز کال)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وښوده، دا دی چې د نړیوالو ځواکونو د برید په پایله کې مزارشریف د طالبانو له ولکې نه آزاد کړل شو او شمال ټلواله یې هلته ولېږدوله.
څلور ورځې وروسته یې کابل ولکه کړ، د نړیوالې ټلوالې او شمالي ټلوالي د بریدونو له امله د طالبانو په نوم ګڼ شمېر کابل ښاریان په سرو وینو ولمبول شول... په پای کې د طالبانو حکومت را نسکور شو.
ابراهیمي په دې تړاو د ۶+۲ غړو هېوادونو یوه غونډه په ملګرو ملتو کې جوړه کړه او په ټولو غاړو یې غږ وکړ چې د بشري حقوقو درناوی وکړي.
د نوموړي د وړاندیزونو له بابته د امنیت شورا یوه پنځه فقریزه پرېکړه د نوامبر په ۱۴ نېټه (۲۰۰۱ کال) خپره کړه چې په افغانستان کې باید د یوه بین الافغاني کنفرانس له مخې د ملګرو ملتو تر نظر لاندې یو لنډ مهاله حکومت جوړ شي.
۱۰ -د المان هېواد د ملګرو ملتو د امنیت شورا د پرېکړې له مخې چې افغانان باید په خپل مینځي کنفرانس کې برخه واخلي د کوربه توب اعلان وکړ.
د همدې پرېکړې له مخې د ملګرو ملتو تر څارنې لاندې د هغو څلورو ډلو استازي د جرمني بن ته را وبلل شول.
په دې کې د شمالي ټلوالي، د روم کې د محمد ظاهر شاه پلویان، په پېښور کې د مېشتو افغانانو استازي او د قبرس په نومونو نامتو ډلې شاملې وې.
د بن غونډه چې په ۲۰۰۱ ز کال د نوامبر په ۲۷ مې نېټې چې د ۱۳۸۰ کال د قوس له شپږمې سره برابره وه جوړه شوه. له اوږدو خبرو او کړوېکتو وروسته ټولې غاړې د ډسامبر په پنځمه (۵) نېټه په یوه پرېکړه لیک سلا شوې، چې لنډیز یې داسې دی:

-په یوه لنډ مهاله حکومت هوکړه وشوه چې د یوه تلپاتي حکومت بنسټ ته لاره پرانېزي.
-د افغانستان لپاره د ملګرو ملتو د ځانګړي استازي ټاکل.
-په افغانستان کې د سولې ټینګښت او د بشر د حقوقو درناوی.
-د افغانستان خپلواکي، د خاورې تمامیت او د ملي حاکمیت درناوی، د اسلام د دین په رڼا کې سیاسي ټاکنې،

دموکراسي، د سیاسي ډلو او ګوندونو او ټولنیز عدالت شتون.
له هغو مجاهدینو مننه چې د خپل هېواد د خپلواکۍ او د خاورې له تمامیته یې ساتنه کړې ده، د وېرې او ظلم پر ضد یې مبارزه کړې ده. د افغانستان د سولې او ثبات په لاره کې هلې ځلې کړې دي.
له برهان الدین رباني نه مننه کوي چې د حکومت واګې لنډ مهاله حکومت ته سپاري.
لنډ مهاله حکومت لومړي سر کې د یوه پراخ بنسټه حکومت په جوړولو کې چې د ټولو قومونو استازیتوب پکې وي اقدام وکړي.
طالبانو هم هغه کوله په سر کې ملا عمر چې واک یې رسما خپلي کابینې ته وسپاره چې له دغه سیاسي بهیر سره مل شي نو ځکه یې په ۱۳۸۰ کال د قوس په ۱۵ نېټې چې د ۲۰۰۱ ز کال د ډسمبر له شپږمې نېټې سره برابره وه طالبانو وړاندیز وکړ، دوی حاضر دي چې د کندهار، هلمند او زابل ولایتونه په سوله ییزه توګه حامد کرزي ته تسلیم کړي. دوی غوښتنه وکړه چې په شمال کې اسیر طالبان خوشې شي.
بن غونډه:

**د لنډ مهالي ادارې لارې چارې، داسې په ګوته شوې:**

۱-د بن کنفرانس و پتېله چې د لنډ مهاله ادارې مشرتابه باید د ډسمبر په ۲۲ نېټه (۲۰۰۱ کال) واک ترلاسه کړي.
۲-د لنډ مهالې ادارې رهبري له یوې لنډ مهالي ادارې نه جوړه ده چې د رییس لخوا اداره کېږي.
۳-یو ځانګړی خپلواک کمیسون به هم بېړنۍ لويې جرګې ته لار پرانیزي او همدا ډول ستره محکمه به د لنډ مهاله اداري لخوا مینځته راځي.
٤-په رسمي توګه د واک له لېږد سره جوخت، لنډ مهاله اداره به ډېر ژر د هېواد چارې په غاړه اخلي، په دې ډول به د ملګرو ملتو چوکۍ اشغالوي، د نورو بهرنیو اړیکو نماینده ګي او په ټوله کې په نړیوال کنفرانسونو کې برخه لري.
٥-د شپږو میاشتو په موده کې به بېړنۍ لویه جرګه جوړېږي د پخواني پاچا محمد ظاهر شاه لخوا به پرانستل کېږي او بیا به دغه جرګه د یوه انتقالي مقام رهبري ټاکي چې یوه پراخ بنسټه انتقالي اداره را مینځته شي. د تصویب له نېټې وروسته دغه اداره به د دوه کالو په موده کې یوه نماینده حکومت ته چې د اذادو ټاکنو لخوا به مینځته راځي لاره پرانېزي.
٦-د لنډ مهالي اداري مقام به هغه مهال خپل کار پای ته رسوي چې د لويې جرګې لخوا، انتقالي اداره مینځته راشي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۷-د انتقالي اداري لخوا به د اتلسو مياشتو په موده كي لويه جرگه را بلل کيږي چي د اساسي قانون په تسويد کي برخه واخلي، خو د دې بهير لپاره به د دوه لومړنيو مياشتو په موده کي د ملگرو ملتو په مرسته د اساسي قانون د تسويد يو کميسون هم جوړيږي.
له دې سربېره د قضايي سيستم قانوني جوړښت د نوي اساسي قانون تر جوړېدو تر لنډ مهاله پېره له هغو تعملاتو به استفاده كوي چي د انتقالي اداري له موافقو سره په ټکر کي نه وي... نو په دې بنسټ د افغانستان قضايه قوه خپلواکه ده (۵) ستره محاکمه او د محکمو نوري څانګي چي دانتقالي اداري لخوا جوړيږي، د قضايي قوي برخه ګڼل کيږي.
په دې تړاو، د ملگرو ملتو په مرسته، انتقالي اداره به يوه قضايي کميسون ته دنده وسپاري چي کورنی قضايي سيستم د اسلام د سپېڅلي دين په رڼا کي د ملگرو ملتو د معيارونو مطابق جوړ کړي.
بيا د افغانستان په باره کي د ملگرو ملتو او د غونډې ګډونوالو له عليحضرت محمد ظاهر شاه څخه وغوښتل چي د لنډ مهالي اداري رياست په غاړه واخلي. ولی هغه و نه منله.
پدې لړ کي دې ټکي ته هم گوته ونيوله شوه چي د لنډ مهالي اداري هيڅ غړی نشي کولی چي د لويي جرگي د بېړنی غونډې په جوړولو کي د کميسون غړيتوب تر لاسه کړي.
د لنډمهالي اداري رييس او يا د ده په غيابت کي د ده مرستيالان کولی شي غونډه جوړه کړي او بيا د غونډې اجنډا مجلس ته وړاندې کړي... پرېکړې به د رايو په اکثريت کيږي.
لنډ مهاله اداره واک لري چي د سولې، نظم او د ښې اداري لپاره فرمانونه صادر کړي.
لنډ مهاله اداره واک لري چي پولي سستم ورغوي او نوې پيسي چاپ او خپرې کړي.
لنډ مهاله او انتقالي اداره به د ملگرو ملتو په مرسته د مهمو چاړواکو لست او نوملړ برابر کړي چي په مهمو دندو لکه واليان، ولسوالان او نورو اداري مقاماتو لپاره وګماري چي د مرکزي بانک په شمول د هېواد ټولي چاري ښې سنبال کړي.
همدا راز د بشر د حقوقو او د هېواد د نظم او ښې اداري لپاره هم زمنه وشوه او دا هم ور زياته شوه که څوک سرغړونه وکړي جزا به ور کړ شي.
د افغانستان د سياسي حل لپاره د هغو افغانانو، نوملړ چي د ملگرو ملتو د استازو په ګډون د يو لړ پرېکړو لپاره را ټول شوي ول، دا دی:
ستار سيرت، امين ارسلا، عبدالرحيم وردګ، ميرمن افضلي، سيد حسين انوري، سيد حامد ګيلاني، رحمت الله موسی غازي، عبدالحکيم، همايون جرير، عباس کريمي، مصطفی کاظمي، عزيز الله لودين، احمد ولي مسعود، اصف محسني، محمد اسحق نادري، محمد ناطقي، عارف نوازي، يونس قانوني، زلمی رسول، ميرويس صادق، محمد جليل شمس، همايون تندر، سيما ولي، عزيز الله واصفي، باچا خان ځدران.
له افغانانو سربېره د ملگرو ملتو استازي لخدر ابراهيمي هم ګډون درلود.
ملگرو ملتو د لنډ مهالي اداري په بهير کي خپل يو استازی د افغانستان د روان بهير لپاره وټاکه، چي له موافقه ليک نه څارنه وکړي.
ده د بېړنی جرگي د جوړېدو کار هم څاره او د بشر د حقوقو چاري هم. دغه استازي ښوونېزې او روزنيزې چارې د ټولنيز شعور د ودې او پرمختګ لپاره غوره ګڼلې او وخت ناوخت به يې لنډ مهالي اداري ته سلا ورکوله.
د همدې کسانو په شتون کي (۲۰۰۱ ز کال د ډسمبر پنځمه) د کنفرانس غړو د يوه مصلحت له مخي حامد کرزی د مؤقتي حکومت د رييس په توګه وټاکه.
پداسي حال کي چي د المان صدر اعظم، لخدر ابراهيمي او يو شمېر نور بهرنيان حاضر ول، دغه سند لاسليک شو.
د دې سند له لاسليک نه وروسته د افغانستان په سياسي تاريخ کي يوه نوي سياسي ژوند ته لاره اواره شوه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ